مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۶/۰۴/۲۰

# لنډۍ، د ښتولو ستونزه

## ۳۷۳مه برخه

ته به مې يوځای بلځای ګورې
زما بـه ستـا دېـوال تـه ساختـلـيوينـه

له نظر کېږې، رنځورېږې
په تيکرې پټکړه د لنډۍزني خالونه

په وطن خره بېکاري ده
وروکي ګرم نهدي چې د مور غېږه پرېږدينه

مخې ته مهراځه شرمېږم
پټه خبرېږم چې مې تا ته درکوينه

د لنډيو د دې برخې لهپاره دا لاندې لنډۍ راتولې شوې دي:

د هلک دوې مياشتې ياري وي
که لږڅه ډېره شي، دوېنيمېمياشتې شينه

د سهارلمونځ په تيمم که
چې ببګانيځوندونه خوله کې پاتېشينه

د بېوسۍ اخري حد دی
د زړهتوتې له مجبورۍ دې هېرومه

د غرهٔ له سره مې سيې کړه
جلۍ لګيـا ده کشمالي اوبـه کـوينه

د زړه په زور مې خنداوکړه
يار مې غلط که، ترينه پټ مې کړل غمونه

د دنداسي خوله دې رانهکړه
دا بازاري سرخي دې زه نهخوښومه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د غاښو خاپ دې نهورکېږي
په غم ښادي کې مخ له خلکو پټومه

د پلار په کور مې بادشاهي وه
تا کړه راغلم اوس میچنې تاوومه

د وفا نښې درکې نهشته
ما درته کتهپورته ډېر کټليدينه

د سترې ژوند، سترې کیسې دي
جانانه مهمېغږوه، ژړا راځینه

د بزرگۍ کیسې دې مهکړه
سرې تودې تبې مې ستا د لاسه دینه

دومره په ضد راسره مهځه
زه خو دې کلي ته میلمه راغلېیمه

ډاکتره وروره، لاس مې ګوره
ونه مې زېړه شوه، په څه ناروغه یمه

زړه مې په داسې چا مئېن دی
نه یې دیدن شته، نه مې زړه صبرکوینه

زما خو ته پهکار یې یاره
ډېرې پیسې د سودخورانو خوښېدينه

زما په مخ کې بل ته خاندې
زمـا د صبـر امـتـحـان اخلې مـیئـنـه

زړه به مې څه خوشحالي وکي
د کتو نه دی چې پرې وشمارې ټپونه

زما د زړه کابل دې وران که
تسلی څهله راکوې چې ستر به شمه

زما په زړه کې دې داغ جوړ که
پر ګلابي شونډو دې خدای جوړ که داغونه

ژوندون د خپل اختیار جنت وي
ما نه ګیلې مهکړه، د بل په واک کې یمه

په زړه یې یو، نصیب د بل شي
د پښتنو دغه رواج دې ایرېشینه

په نیمهشپه راته رایاد شوې
هغه راغلیخوب مې بیا وتښتېدنه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په مازدیګر کې دیدن راوړه
د مازدیګردیدن خو عمر زیاتوینه

په ونه دنګ، په زړه بیماره
چې راپسې وې، غبږ دې ولې نه‌کاونه

په ژړا نه‌کېږي جانانه
همت پیدا که چې ماړه په دیدن شونه

په ستن وهلی خال به رنګ کړم
زما لـه خپـل لالي نه وختـل لاسونه

پرصداقت دې خاورې واوړه
زړګی مې راوړه، په یارۍ پښېمانه‌یمه

په سرې یو نفر مئېن وي
په یار مئېن دي تر اټک پورې قومونه

پلار مې په ژوند وهلې نه‌وم
سپېره نصیب مې دلته هره‌ورځ وهینه

په وطن خړه بېکاري ده
وړوکې ګرم نه‌دي چې د مور غېـږه پرېږدینه

پر ما شکمن لالي ته وایه
که بل مې یار وي، په ایمان دې خواره‌شمه

پرلالي سختېورځې راغلې
خپل او پردي ورځنې لارې بدلوینه

لیونۍ ځنګ ته مې درپرېږده
خانې نه‌غواړم، نوکرې به دې کومه

لالی زما له‌لاسه ووت
اوس مې په نورو سترګو مینه نه‌راځینه

لکه چې خدای دې سوال قبول که
چې رنګه‌بنګه دې په غېږ کې پرېوتمه

له نظر کېږې، رنځورېږې
په ټیکرې پټ‌کړه د لنډۍزنې خالونه

لړه‌راښکته شه خوله راکه
که زه دربرشومه، راماته به دې کړمه

لالیه ګرم رابانديې نه یې
له لیونیو سره څوک رشتېپالینه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

لالی د بدو سړی نه دی
د بل په خوله چارېکوي، زور راکوينه

له رنګه توره، غنمرنګه
تورهلونګه، ليونی درپسې شومه

له خولې توبې، توبې اوباسم
پر تا مئېن زړه مې توبې نهقبلوينه

ما ته له لرې په خندا شه
چې خطرې مې د زړګي اوارېشينه

مچان پر مرچو نهټولېږي
پر خوږهګوړه يې هميش بڼهار وينه

ما ته دې زوړ لالی راياد کړ
په وير دې واوړه زنګېدلي قدمونه

مينه دې نه ده، شنه مالته ده
په زړه کمزوري وړوکي هروخت ټوخوينه

ما چې ترخوږ ګوتې نه نيسې
بيا به دې زه هم لټومه پرهرونه

مسافري دې په نصيبشوه
په مسافرو ميلمانه وي تل غمونه

ما د نيستيوزور ليدلی
ما اورېدلي د همځولو پيغورونه

ما ليونيکارونه پرېښول
خو تا پرغونډه زنه بيا کېښول خالونه

مخې ته مهراځه شرمېږم
پټه خبرېږم چې مې تا ته درکوينه

مورې کوچيانو ته مې ورکړه
د اوښشودې به راکوي، غټه به شمه

ته په کوڅه کې سپو چيه کړې
زه د بلی پرسر خندا نسکورهکړمه

ته به مې يوځای بلځای ګورې
زما به ستا دېوال ته ساختلېوينه

باران دې لسورځې ورېږي
زه د لالي په غېږ کې پټه ناستهيمه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

خلک په شور باندې ویښیږي
ما د جانان خاموشي خوب ته نه‌پرېږدینه

خلک حیران کړه، غیږه راکړه
جانانه ستا لاسونه چانیولي‌دینه

خدای به مو بیا سره یوځای کړي
سپینه ټوټه سترگو ته مه‌نیسه میئنه

خدای خودې تا پرچا مین کړي
چې تن دې روغ وي، زړه دې پټ کوي دردونه

خلک دې ولې په ژړا کړل
له دېواله ځرگندوې سپین‌مړوندونه

خبر مې ژر اخله جانانه
د غم اوبه مې تر مرۍ راغلې‌دینه

چې پښې لاسونه دې کړپیږي
وړکیه ډاربیږې، که ساړه دې رپوینه

چې عاشقي یې کړې نه‌وي
هغه سرې به ایمان ځنگه تېروینه

چې مینه کړې، تومت به اخلې
د خلکو خولې به تورې خاورې پټوینه

چېرته عاشق سړی ولاړ دی
ساړه، ساړه اسویلي کړي، باد یې راوړینه

چنار، چنار وړکي یې مړه‌کړل
ټوپکه مات سې، هره خونه دې کړه ورانه

جانانه تورسیرلی حلال کړه
زموږه کډه ستاسو کلي ته درځینه

سبا وطن ته روانیږم
د خپل وطن یاران مې ډېر زړه ته راځینه

سترگې دې تورې په رنجو که
د مسافر اشنا دې غږ دی، رابه‌شینه

شونډې مې درېځایه وتلې
د زړه‌زخمونه مې اوس مخ بدرنگوینه

عمر د باد غونډې تېریږي
که لالی سل‌کاله بندي وي، رابه‌شینه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**غېږه دې خلاصه که چې درشم**
**د پېغلو قدر د خپلیار په غېږ کې وینه**

**غریبي دومره بده نه‌ده**
**بد یې پېغور دی، سړی سخت خپه‌کوینه**

**که نن راځې، دیدن به وکړې**
**سبا به سرې سترګې ولاړوې، نه به یمه**

**کله زموږ کوڅې ته راشه**
**هسکه‌غړی به پر دېوال دربنکاره‌شمه**

**وعده دې وکړه، بیا رانغلې**
**بېګا مې تولـه‌شپه نوکان خوړلې‌دینه**

**ولې مې سترګو کې تاوېږې**
**ولې مې زړه درپسې دومره دردکوینه**

**هغه ده سرې لمبې ترې خېژي**
**د چـا پــه نــوې مېنــه اور ولــګېدنــه**

**هلک مچې چیچلی، ژاړي**
**جنۍ بنامار خوړلې، شنه له خندا شینه**

**نه زه درځم، نه ته راتلای شې**
**جانانه چا نه به دې وکړم تپوسـونـه**

**ارمان به وکړې، وخت به تېر وي**
**خلک به دېر وي، څوک به غږ نه‌درکوینه**

نوربیا

د لیکوال نورې لیکنې په لاندې لینک کې لوستلای شئ:

**http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ